په جنازه کې ښېړه وکړئ، ځکه که مړی صالح وي، نو غوره انسان دی چې تاسو يې لېږئ؛ او که له دې پرته بل ډول وي، نو يو بد بار دی چې له خپلو اوږو يې کوزوئ

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: " په جنازه کې ښېړه وکړئ، ځکه که مړی صالح وي، نو غوره انسان دی چې تاسو يې لېږئ؛ او که له دې پرته بل ډول وي، نو يو بد بار دی چې له خپلو اوږو يې کوزوئ".

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم امر کړی چې جنازه دې ژر تر ژره چمتو شي، د جنازې لمونځ دې پرې وشي او مړی دې ژر ښخ شي، ځکه که مړی نېک انسان وي نو دی غوره انسان دی چې تاسو يې د قبر نعمتونو ته ورساندې کوئ او که له دې پرته بل څه وي، نو شر دی چې له خپلو اوږو يې کوزوئ.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3109